ژباړه : رحمت آريا ۲۰۱۱ زکال د مي د مياشتي ۱۵

له هېواد – مشره تر قيصره

ليکوال : بروس ريچاردسن

گومان نه کوم چې « هغوی» په ربښتيا د بن لادن د نېولو غوښتونکي ول، ښايي ته به راته په بدګومانۍ ووايې چې هغه نه غوښتل ودي نېول شي ځکه که نېول شوی وای نو جګړه پای ته رسېدله او ټولې سياسي ګټې به پوښا شوی وای...[ډګروال لارنس ويلکرسن [1]، د کولن پاول [2] د دفتر رئيس. نوموړي دا خبره د ۲۰۱۱ ز کال د مي د مياشتي په يولسمه نېټه د ام اس ان بی سي [3] په تلويزيون کې ايد شوتز [4] ته وکړه.]

هېواد – مشر بلکلنتن وو چې د اسامه بن لادن ښکار يې را پيل کړ. د کېنيا او تانزانيا له بمبي برېدونو وروسته کلنتن يو امر ليک لاسليک کړ چې د امريکا پخوانيو رسمي چارواکو د « موندنې د پټ ګام د اوچتولو» د « امر ليک » په نامه ياد کړ، امرليک د اسامه بن لادن او القاعدې پر وړاندې د سي آی ای عملياتو ته واک ورکاوه. په هغه وخت کې د لارښود ليک پرېږه کړښه د بن لادن نيول، امريکا ته د هغه راوستل او د محکمې مېز ته د هغه درول ول. وروسته په ۱۹۹۸ زکال کې هېواد – مشر کلنتن د « غچ د اقداماتو» تر نامه لاندې پر افغانستان د کروز توغندي ووَرَول.

هېواد مشر بوش د ۲۰۰۱ ز کال د سپتامبر د مياشتي په اوه لسمې نېټې بل امرليک لاسليک کړ؛ دا امر ليک چې په لوړه کچه پټ امرليک وو سي آی ای ته پې د عملياتو د ترسره کولو واک ورکاوه ؛ په ليک کې ويل شوي ول چې سي آی ای دې د وژونکي ځواک په ګډون له ټولو مېتودونو او شته وو امکاناتو..... ځخه په ځرګنده کار واخلي او د القاعدې او د هغې د مشر کمېلې دي نوره ورټوله کړي. دغه پټ امرليک ته شننونکي کټ مټ د « ضربتي – ډلګيو » په سترګه ګوري چې تر هماغه نامه لاندې د اسرائيلو موساد او نورو ځارګرو ادارو د ورته موخو لپاره جوړکړي دي. ددغه امرليک قانوني خټې او تومنې ته په کتنې ډګروال لارنس ويلکرسن اړ شو چې له خپلې دندې لاس پر سر شي، ځکه ډګروال ويلکرسن د ملګرو ملتونو د بشري پروتوکولونو په ګډون چې سياسي وژنې پې منع کړي د نورو بې شمېرو نړيوالو قوانيونو تر سيوري لاندې دا ډول امرليک د هغه په اند غير قانوني ګام وو.

ډګروال لارنس ويلکرسن چې د بوش د اداري د « غيرقانوني پاليسيو» په اعتراض کې پې استعفی کړې وويل : « هېواد – مشر بوش لېواله نه وو چې د اسامه بن لادن پېښه دې د محکمې مېز ته را وکاږل شي.» دا سياسي معترضه جمله ځکه د خورا اهميت وړ ده چې د بوش د اداري د يوه لوړ پوړي چارواکي له خوا د شننو او کره کتنو ډګر ته راوځي.... ځکه په لسګونو لسګونو ځېرونکو عيني او لاسوند شواهد راټول کړي او دا حقيقت تصديقوي چې د « ترهګرۍ پر وړاندې» د بوش « جګړه» پر دې بنسټ ولاړه نه وه چې ګڼې اسامه بن لادن دي يا ژوندی ونېسي او يا دې ووژني او يا دې په افغانستان کې د القاعدې ځالګی درې وړې کړي. په اوسنيو شېبو کې را ټول شوي تأريخي شواهد د بوش د اداري له ويل شويو موخو سره په بشپړ ټکر کې دي.

په افغانستان کې د جګړې له پيل مخکې د ۲۰۰۱ ز کال د جولای د مياشتي په نېمايي کې د برلين د کنفرانس د غونډې د انګېزې يا انګېزو په اړوند ډېرې لېکنې شوې دي. ددې غونډې برخوال د تيلو د شرکتونو د لارښودو - مشرتابه ډلو استازي دي، جګړې ته مخه کول او په جګړه پالې ژبې خبرې کول دوی ته د خپلو او يا د شرکتونو د ګټو د اړتياوو پر بنسټ په ميراث رسيدلي دي.

د نوموړې غونډې برخوال دا کسان ول : د پاکستان د بهرنيو چارو وزير نياز نيک، ملګرو ملتونو ته د ايران دايمي استازی سيد راجای خراساني، افغانستان ته د روسې ځانګړی استازی نيکلای کوزيريف، پاکستان ته د امريکا پخوانی سفير تام سمسنز، د امريکا د بهرنيو چارو په وزارت کې د آسيا د چارو مرستيال - وزير کارل اندرفورت، او لي کولدرن چې تر ۱۹۷۷ زکال پورې د امريکا د بهرنيو چار په وزارت کې د افغانستان – پاکستان او د بنګله ديش د دفتر مشر وو. د جولای د مياشتي د غونډې مشري فرانسيس وندريل کوله چې افغانستان ته د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی

[1] Colonel Lawrence Wilkerson
[2] Colin Powell
[3] MSNBC
[4] Ed Schultz

نوموړی د MSNBC په تلويزيون کې د خبرونو او خبرو اترو يوه خپرونه لري چې Ed Show نومېږي. [ژ]

افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وو. زلمی خلیلزاد هم دي غونډي ته د یونوکال د شرکت په استازیتوب راغلی وو؛ یونوکال، د عربي سمندر په غاړي کي تر پراته بندر، ګوادر، پوري له تورکمنستانه د افغانستان او پاکستان له خاورو په تیریدا د تیلو او ګازو د نللېکي د ټیکي ځانګړي حق غوښت؛ د یونوکال نوري معمایی ځانګي د احمد شاه مسعود محتکر ملګري [Ritchie Brothers,] او [Texas oil] دي چي دواړه ېې په پټه د طالبانو پر وړاندي د اجیرو جنګالیو په استخدام کي ښکیل ول او د غونډي وروستنی برخه وال د شمالي ټلوالي د بهرنیو چارو وزیر عبدالله عبدالله وو.

په غونډي کي کارل اندرفورټ د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر نېازنیک ته وویل : «مخکي له دي چي د واورو پاغوندي پر ځمکه ووَریږي موږ به د اکتوبر په میاشت کي له تاجیکستانه چي اوس امریکایي سلاکاران په کي دېره دي پر افغانستان برید وکړو » نوموړي زیاته کړه « وزبکستان به هم په دغو عملیاتو کي برخه واخلي او د هغوی ترځنګ به ۱۷۰۰۰ روسي سرتیري هم د اړتیا په حالت کي له موږ سره یو ځای افغانستان ته ننوځي.» مخکي له دي چي پر افغانستان باندي برید وشي د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر د میاشتي په یوې ناڅرګندي نېټي کي د روسېې، امریکا، پاکستان، ایران، هندوستان د دولتونو رسمي چارواکي او د تیلو د پلټنو د سترو شرکتونو استازي سره راټول شول او پر افغانستان باندي ېې د پوځي برید د پلان د پیل پر اړخونو باندي خبري وکړي. له دي غونډي مخکي افغانستان لا وختي د بمبارد په یوه ورانوونکي جګړه پاله ګوابښ، ګوابښل شوی وو. دا ګوابښ د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت د استازي کریستینا روکا له خوا د طالبانو پټ ډیپلوماتیک مأمور رحمت الله هاشمي ته ورکړل شو چي د ۲۰۰۱ ز کال د فبروري په میاشت کي په واشنګټن کي د بوش له اداري سره په دوه اړخیزو دیپلوماتیکو خبرو اترو بوخت وو. طالب مأمور هاشمي د بې شمېرو خبرو په لړ کي د اسامه بن لادن د نېولو د وړاندېز تر ځنګ وویل چي طالبان به لادن امریکا ته وسپاري. مګر دا وړاندېز په پټو سترګو رد شو. د بې شمېرو پلټنېزو لاسوندونو او ځېرنو پایلې ښیي چي دا ګوابښ په حقیقت کي د تیلو د نللېکي د غځولو پر سر د طالبانو او یونوکال تر منځ د ناکامو خبرو اترو د پایلي له امله رامنځته شو. له دي حقیقت سره سره چي طالبانو د بن لادن د سپارلو وړاندېز کړی وو ، اوسنی روان ناشولته بد شګونی ناتار چي افغانستان په خپلو منګولو کي ځېي، او ورپسي په پاکستان کي د امریکایي چارواکو په لاس د اسامه بن لادن وژل او د هېواد – مشر بوش له خوا په رَډو سترګو د طالبانو د وړاندېز غندل ټول د هېواد مشرۍ د اداري له هغې توجیه سره اړخ نه لګوي چي پر افغانستان باندي د مؤجه برید په اړه ېې کاروي.

د امریکا متحده ایالاتو د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر د میاشتي په ۱۷ نېټي پر افغانستان باندي خپل بمبارد پیل کړ. له برید او یرغل وروسته امریکایي رسمي چارواکو په تکرار وویل چي « د اسامه بن لادن نېول یا وژل زموږ بنسټېزه موخه وه، خو ددي ترځنګ بله بنسټېزه او ستره موخه چي د ډېر اهمیت وړ ده د رژیم بدلون او د طالبانو د جړړو اېستل دي».

پر افغانستان باندي د امریکا له بریده ګټه اخېستونکي ډله، شمالي ټلواله ده ؛ د امریکایي برېد له پېښه شمالي ټلوالي ته د سرو زور شېبه په لاس ورغلي نو ځکه د خپلو دودېزو برلاسو مېرځمنو پښتنو طالبانو پر وړاندي د امریکایي یرغل ملاتر او مرسته کوي. شمالي ټلواله له امریکایي یرغله دومره په خوښېو کي ډوبه وه چي خپله دا خوښي ېې نه شوای پټولای ؛ د ولي مسعود له خولي په اخځ ویل کېږي چي امریکایانو ته به ېې ویل :« تاسو باید کندهار هم بمبارد کړئ ځکه هلته د ترهګرو ډېر کمپونه دي.»

په دي ډول د توجیه امریکایي اصطلاح، ان د عیني واقعیتونو له سطحي پورته تللي او د یوه هېواد پر وړاندي د « یرغلګرې جګړې» د اصطلاح پر ځای ېې اوس په حقوقي اصطلاحاتو کي ځانته ځای موندلی دی. شک نه شته چي امریکا له نړیوالو کنوانسیونونو او قوانینوڅخه پریمانه سرغړونه کړې ده، اوس په نړیوالي محکمي اړه لري چي د امریکا پام خپلي هېرۍ کړي دندي ته راوړوي او دداسي ځرګند یرغل د قضیي دوسېې ته دي غوږ ونېسي.

له هېواد – مشره تر قیصره

د امریکا د ولسي جرګي د قانون د کمېټي مشر، د دیموکرات ګوند غړي کشر جان کان یېرز [John Conyers Jr. (D)] له نورو ۳۲ تنو دیموکراتانو سره په ګډه د یوه اعتراض لېک په لړ کي ټینګار کوي : « لاسوندونه په زباد رسوي چي د ترهګرو ځواکونو پر وړاندي روانه جګړه له خپله حده دېره وړاندي تللي ده، روانه جګړه د کانګرس له کره کتنو او خبرو اترو پرته هېواد مشر ته پریمانه ځواک ورکوي.» نوموړی لېک د واک د زیاتولو په اړوند د هغه قانون له ژبني جوړښت ځخه هم خبرې کوي چي د [بندیانو د خوندیتابه په قانوني فرمان یا 'Detainee Security Act'] کي ور ګډ شوی او د سمندرونو په بله غاړه کي د ترهګرو پر وړاندي پر روانو وسلوالو نښتو ټینګار کوي. دا فرمان هېواد – مشر ته دومره واک ورکوي چي نېږدي له هر ډول قید او بنده خلاص یو فرمان ېې بللی شو، ددي فرمان په لرلو هېواد – مشر واک لري چي د کانګرس له منظوري پرته د نړۍ په هرګوټ کي پوځي ګام اوچت کړي. هېواد مشر ته نه باید د کانګرس له کره کتني او شننې پرته داسي یو واک ورکړل شي. د ACLU په شان د اساسي قانون نور ساتندوی بنسټونه په خپل وروستي بولتن 'Bulletin' کي د کانګرس له کره کتني مخکي دا ډول قانوني تعدیل سره کلک مخالفت ځرګند کړی او

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ټینګار کوي چې دا قانون به، اوسني او راتلونکو هېواد مشرانو ته دا واک ورکړي چې هر چېرې په خپل نوښت او خپله خوښه د جګړې لمنه پراخه کړي، او د نړیوال قانون او یا د امریکا د اساسي قانون له خنډونو پرته به وکولای شي د نړۍ په هرګوټ کې له وسلوال ځواک څخه کار واخلي. په بله وینا په ستري امریکایي ډیموکراسۍ کې ..... هېواد مشر په قیصر بدلېږي.

نړیوالو ستونزو او ننګـَونو، ستراتیژیکو او یا اقتصادي فرضیو ته د حل همدا پوځي لارې چارې دي چې افغان وګړي په خپله خاوره کې د امریکا د شونو دایمي اډو له جوړولو څخه ویره لري. خو که هغوی ووایي « امریکایان به د افغانستان له خاورې پر ایران برید وکړي؟» د ایران غچ به خورا چټک او مرګونی وي.

د کلنتن او بوش د اداور له قانونه وتلي ګامونه او پوځي سرغړونې او د ۲۰۱۱ زکال د مې د مېاشتې په لومړۍ نېټې د پاکستان په ایبټ آباد کې د [ګډو ځانګړو عملیاتي ځواکونو (JSOC)] په نښه شوي عملیات چې په ترڅ کې بې اسامه بن لادن اعدام شو ډېرې اندیښمن امریکایان چې په هېواد کې دننه یا له هېواده دباندې ژوند کوي هیله کوي چې کانګرس دې د امریکا د متحده ایالاتو د هېواد مشر دفتر ته د جګړې په اړه نور اضافي قانوني واک ډالۍ نه کړي.

بروس ریچارسن **پای**

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ